درویش وردک

۱۳ نومبر ۲۰۱۶

## نه ځلویښتم مجلس(په بخشش کی)

**دوهمه برخه**

شیخ عبدالقادرګیلانی(رضی الله تعالی عنه) فرمایلی: دصالحینو نومونه اخیستل اوددوی په څیرجامی اغوستل، اوددوی خبری نقل کول درته څه ګټه لری، پداسی حال کی چی ددوی داعمالو اوکړوسره همغږی نه یی. ته پرته له رښا تیاره یی، پرته له خدایه خلق یی، پرته له آخرته دنیا یی، له هرډول حقیقته تش باطن یی، اوپرته له باطنه ظاهریی. ستاګفتارستا عمل نه تائیدوی،اوپه عمل کی دداخلاص نښه نشته. پوه شه چی ستاخخه کوم څه نه منل کیږی، ترڅوچی په تولیزه سره دکتاب اوسنتو تابع نشی.

پرته له شاهده ستا دعوی نه قبلیږی.هرکله که دی په حیله اونیرنګ وکولای شول چی ځان دخلکو پروړاندی موجه وښئی، پوه شه چی له خدای سره غدر نشی کولای، هغه په زړونو آګاه دی، دزښتو اعمالو دمتاع رانیونکی ندی، ځکه ماهراوهوښیارصریف دی. عزّوجلّ خدای ظاهربین ندی، بلکه باطن ته ګوری، چی په خلوت اوتنهایی کی څه کارکوی؟ داچی ځان دخلکو پروړاندی سمبالوی، ولی داخل دی نجس دی،شرمنده نه یی؟ که درستګاری غوښتونکی یی، نوژرلکه ګناهونو توبه وباسه اوپه توبه کی اخلاص څرګندکړه. پرته دخدای درضا کوم عمل مه ترسره کوه. زه تاسرترپایه په خطاء کی وینم، ځکه له نفس اوهوا سره مل اودشهواتوتابع یی. ډیره لرعطا ستادخوښی اویوه ګوله هم ستا دغضب سبب ګرزی، تل دنفس درضایت دتامین په فکرکی یی، ستا خشم اوغصه دځان لپاره ده، اختیاردی دنفس په لاس کی دی. ته دخدای دحقیقی بنده ګانوسره څه اړیکی اوورته والی لری؟ ددوی عبودیت صادقانه دی، دخدای پروړاندی تسلیم دی،رنځ اوبلاوی پری نازلیږی، ولی دوی دغرونوپه څیراستواره اوپایداره دی، اوپه صبراوشکیبایی سره هغه منی. ظاهریی له بلاو سره دمخامخ کیدولپاره چمتوکړی، اوپه زړه سره دخدای لوری ته پروازکوی. دوی هغه خیمی دی پرته له اوسیدونکو، پرته له الوتونکوقفسونه دی، یعنی ددوی کالبد په ظاهره سره شتون لری، ولی زړونه یی دحق په لوری په الوتودی.

ای له خدایه لیری شویو، زما خواته راشی، ترڅوستاسو اړیکه له خپل خدای سره اصلاح کړم، اوله هغه وغواړم چی دامنیت خاطردرته عنایت وفرمایی، په زاریو اوتضرع به له هغه وغواړم ترڅوپرتاسو ببنه وکړی، اوله خپلوحقونوچی ستاسوپراوړودی، تیرشی.

لویه خدایه مونږدځان خواته دروبولی، اوپرخپله درګاه مومقیم وګرزوه. مونږ خاص دځان لپاره ځانګړی کړه اوپه خدمت مو راضی کړه. زمونږ موندنه اوعطا دخپلی رضا سره مقرون وګرزوه، زمونږ اسرارله آلودګیو څخه پاک وګرزوه، مونږ دهغه څه دارتکاب نه چی منع دی ګرزولی، لیری وساته، اودهغه څه په ترک چی امردی فرمایلی مه بوخت کوه، زمونږ ظاهرپه توبه سره له معاصیولیری کړه، اوباطن موله شرک څخه پاک کړه، مونږ دقرب په مقام کی له ځانه څخه بیخوده کړه اوټول وجودمو دځان لپاره ځانګړی وګرزوه، مونږپه خپل اقدس ذات سره توانګرکړه، دغفلت له خوبه موراویښ کړه،په خپل طاعت اوبنده ګی سره موبریالی کړه، دقرب په خوږومو زړونه متلذذکړه، دمونږ اوعصیان ترمنځ بیلتون راولی، داسی چی دځمکی اوآسمان ترمنځ جدایی ده، دقرب مقام ته موورسوی، داسی چی تورولی اوسپین والی دی له زلیخالیری کړ چی دګناه مرتکبه نشی.

شیخ(رضی تعالی عنه) بیا وفرمایل: په لمانځه ،روژه اوصبرسره خپل وجود اونفس ذوب کړی. هرکله که بنده دنفس اوشهواتو هوا له منځه یووړه، په زړه اوسر، په پراخی پرته له تنګی، اوپه سلامت پرته له ناروغی به دمولاپه وړاندی باقی پاته شی. عاقل اوسی ، علم زده کړی اوپه اخلاص سره په هغی عمل وکړی.

(ای دخدای بنده) علم لومړی له خلکو زده کړه، وروسته له خالقه، پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (مَنْ عَمِلَ بِمَا يَعْلَمُ اَوْرَثَهُ اللهُ عِلْمَ مَالَمْ يَعْلَمْ).« هرڅوک چی په هغه علم چی زده کړی یی دی، عمل وکړی، خدای به یی په هغه څه چی نه پوهیږی، خبرکړی».

(ای دخدای بنده) دهغه چاسره ملګرتیا وکړه چی تا دنفس سره په جهاد کی مرسته وکړی،نه دهغه چاسره چی ستاپروړاندی دنفس ملګری وکړی.هرکله که دجاهل اومنافق شیخ سره چی دنفس دهوا اسیروی، ملګری وکړه، پوه شه چی هغه ستا دنفس یاراومرستندوی دی. ځکه ریښتینی شیخ دنیا ته پاملرنه نکوی، بلکه ټل دآخرت په بند اواندیښنه کی دی. هرکله که شیخ دهیلواواوهوا درلودونکی و، له دنیا سره سراوکارلری، اوکه دزړه خاوند و، له آخرت سره پیوستون لری، اوکه دسراوباطن څښتن و، نودمولادوستداردی.

ای چی دشیخانوپه شا اوخواګرزی! پوه شه چی ترڅو ددنیا په بندویی ، نوماشوم یی، نفس دی ددنیاپروړاندی دروی. دارادی اواختیارسره هغه طردکړه، نه دناچاری له لاری، داسی چی مطمئنه مرحلی ته ورسیږی، اوپه زړه بدل شی، اودالیری ده اوبعیده، مګرپه زیاراوتلاش. هرکله که نفس ددنیا له لیدو محروم شو، اوپرته له مولایی بل محبوب نه درلود، حق ته دبنده درسیدو موجوب ګرزی، پداسی حال کی خوف اوخطر شدت مومی، همداسی چی کله وزیرپادشاه ته دنیږدی والی په وجه دهغی نه ډیره ویره لری، هرڅومره چی دبنده قرب ډیرشی خوف یی هم ډیریږی.

نوځکه داولیاء الله قوم دلوی خطرسره مخ دی،اوداخوف همداسی ادامه لری، اګرکه دخدای په لقاء هم نایل شوی وی. هرڅاچی خدای ښه وپیژانده ، خوف یی هم ډیریږی، رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (اَنَا اَعْرَفُكُمْ بِاللهِ وَاَشَدُّكُمْ لَهُ خَوفاً)-« زه ترټاسوخدای ښه پیژنم، اوترټاسوډیره ویره لرم».

متعال خدای خپل دوستان آزمویی، ترڅوهغوی له تیاروپاک کړی، اودوی هم ټل دخوف په مقام کی دی،اوداحوال له تغییراوتبدیل څخه په ویره کی دی، پداسی حال کی چی دامنیت په حال کی هم دی. بی تابه دی، پداسی حال کی چی په آرامش کی دی، دخپل نفس سره په وړوکی غفلت هم په جګړه کی دی. هرڅومره چی ساکن اوسی بیاهم په پروازکی دی، هرڅومره چی توانمندشی بیاهم ځانونه اړبولی. هرڅومره چی ډیرامنیت ترلاسه کړی، ډیروېریږی. هرڅومره چی دخوښی اوخندا موجبات ورته برابرشی ،ژړا یی نوره هم ډیریږی. دخوښی په اوج کی غمګین دی. داټول دسوء عاقبت له ویری دی چی پوهیږی ربّ عزّوجلّ(لايُسْأَلُ عَمّا يَفْعَلُ وَهُم يُسْأَلُونَ).

ولې ته غافله يې، اودمعصيت په ښوولوسره دخداى پروړاندى ولاړيې، دخداى سره مخالفت کوى اوډاډاوآرامش هم لرى!! پوه شه چې ډيرژربه دغه آرامش په خوف، اووسعت اوفراخ دستى به دى په تنګدستى اوسلامت به دى به ناروغى بدل شى، عزت به دى په خوارى، دمقام لوړوالى به دى په خفت، توانګرى به دى به درويشى بدله شى. پوه شه ستا امنيت دقيامت په ورځ دخداى له عذابه، په دنيا کى ستا په ويره له هغه ذات څخه تراولرى، ولى ته ددنيا دلذايذوپه درياب کى غوټې وهى، اودغفلت په ځاه کى بنديى، ژونددى په ناچاره دحيواناتوپه څيردى، چې په خوراک ،څښاک اوخوب کى خلاصه کيږى. ستا احوال دزړونو له خاوندانو سره ښکاره دى، ددنيا په مال حرص اودهغى راټولول اودروزى طلب ته دخداى دلارى څخه ليرى کړى يى.

اى چې ددنيا حرص اوآز ته دى خواريو(فضيحت) ته اچولى يې، پوه شه چې که له تاسره ددنيا ټول اهل يوځاى شى اوهغه څه چې ستا نصيب ندى درکړى، قادره به نه وى، پس دغه بى ځايه حرص دمقسومى روزى په طلب کى  اوهغه زياردغيرمقسومى روزى په لاس ته راوړوکى له سره ليرى کړه، عاقل سړى څرنګه خپل عمردهغه څه لپاره چې ورته ګټه نه رسوى، مصرف کوى؟! پرخلکو دتکيى اواعتنافکرله زړه وباسه،اقبال اوادبار، نفع اوضرر، عطا اومنع،مدح اوذم، اکرام اواهانت له خلکو مه ګڼه، اوايمان ولره چې چې ټولى ګټى اوتاوانونه دخداى له جانبه دى، خيراوشردده دقدرت په لاسونو کى دى، ولى هغه دخلکو پواسطه پلى کوى، اوته هغه ناديده وګڼه اوپوه شه چې هغوى دخداى له لورى دى، اونورپرته له وسيلى اوسببه څخه بل څه ندى.

هغوى چې دخداى فرمانبرداره دى، عاقلان اودانشمندان دى، اوڅوک چې دخداى نافرمانى وکړى، ليونيان اوکم عقله دى،چې بايد ورته دتحقيرپه سترګووکتل شى،اوپه آزاراواذيت يى هم بايد صابره اوسو. جاهل دخداى نافرمانه اودشيطان پيرودى، ځکه که عاصى جاهل نه اوسى؟عصيان نه کوى. که يى خپل نفس پيژندلاى، اوپوه واى چې بدوکاروته يى ګمارى، نوهيڅکله به يى هم له هغى پيروى نه کوله. ډيرمى له شيطانه اوله يارانويى منع کړى، ولى تاونه منله، اوپوه اوسه چې دشيطان ياران اواعوان هماهغه اماره نفس ، حب ددنيا اونابابه ياران چې ټولويى ليرى اوسه، ځکه ټول ستا دښمنان دى. ستا دوست پرته له خدايه بل څوک ندى، خداى ستا خيرغوارى اونورتا دخپلو ګټولپاره غوارى.

هرکله که وتوانيدى په خلوت اويوازيتوب کى دنفس داسارت دقيد څخه خلاص شى،  هغه وخت دحق قرب اوانس ته رسيدلى يى. هرکله که دنفس اودنيا ترک کړه، اوزړه اوآخرت دى دهمت وجه وګرزوله، اوباطن دى مولاته شو، هغه وخت دى دانس مقام ترلاسه کړى، ولى ددى معارضوعواملوسره ګمان مکوه چې په خلوت کى يى، ځکه رينښتينى خلوت هغه دى چې پرته له خدايه هرڅه له زړه وباسى،ځکه خداى هغه وخت پيداکولاى شى چې له غيرخدايه سره دى پريکړون کړى وى. هغه وخت صفا ته لاس موندلاى شى چې دصفا اهل ووينى. هغه وخت صدق ته رسيدلاى شى چې صادق اوصدق دى ليدلى وى. هغه وخت دمادى له قيده څخه خلاصيږى، چې دحق درګاه اودهغى اهل دى پيژندلى وى، هرکله که دغه حالات په تاکى محقق شول، هغه وخت به دحق مردان هم وپيژنى. هرکله که دپادشاه درګاه ته ورسيدى نوخوامخوابه دهغى چاکران اوخدمتګاران هم ووينى چې هلته ولاړدى، لومړى بايد له درګاه سره آشناشو، بيا دغلامانواوچاکرانوليدوته رسيږو. هرکله که دى دروازى ته دى لاره وموندە، اودخداى معرفت ته ورسيدى، صدق به ووينى، اوهرکله که دصدق په ليدوبريالى شوى،  هغه به دى دغفلت له خوبه راويښ کړى، ولى پوه شه چې کذب دى له دى درګاه څخه ليرى کوى اودغفلت په خوب دى ګرفتاره کوى.

له صادقينوسره مل شه، ترڅوله تاسره هم همداسى معامله وشى لکه ددوى سره. په اعمالو اووينانکى دى صدق اوراستى مراعات کړه، اوپه هرحال کى صابره اوسه. پوه شه چې بشپړ صدق يعنى توحيد اوتوکل پرخداى، اودتوکل حقيقت يعنى داسبابواوارباب‌وڅخه دهيلوپريکړون، او دخداى پروړاندى پرخپل ځواک اوتوان ، تکيه نه کول په زړه اوباطن سره. که

دقرب مقام ته رسیدل غواړی، په خدای باوروکړه اوله غیرو څخه لیری اوسه، له مخلوقه لیری شه اوخالق ته وصل شه.
ترڅوچی له ځان اونوروسره یی دژغورنی به تمه مه اوسه. دحق قرب درنځ اوکړاو دمنلومتضمن دی. البته له زرګونو کسانوڅخه یوازی یوتن زماپروپیناوو پوه دی، هغه درک کوی اوعمل پری کوی، اوپاته دبی خبری په حال کی دی. زه ستاسو ددنیا اوآخرت دخیرغوښتونکی یم، پوه شی چی دنیا دمومن زندان دی، اوهرکله که یی ددی زندان کړاونه هیرکړل نوآرامش ته به ورسیږی. مومنین دژوندانه په زندان اوعارفان دشکرپه مقام کی دی اوله دی زندانه بی خبره دی، خدای پری دقرب له شرابوڅښنی، له خلکو نه یی بی خبره کوی، اودحق په یاد یی بیداره کوی اوددنیا له زندانه اودهغی له اهل څخه یی غافل کوی. په دنیا کی دبهشت اودوزخ سره مخ کیږی، منازعه یی دوزخ اورضایی دجنت په قضاء، غفلت یی دوزخ اوبیداری یی جنت دی.
دعواموله‌پاره قیامت محاسبه دی، اودخواصوله‌پاره معاتبه ده، ولی به داسی نه وی؟ مګرداسی نده چی دوی په دنیا کی په خپلوزړوکی قیامت جوړکړی؟ هوکی مخکی له دی چی وژاړی، ژړلی دی، اوطبعابه دخپلو ژړاو ګټه په قیامت کی ترلاسه کوی.
سفیان ثوری(رحمة الله علیه ) په خوب کی ولیدل شو، له ده څخه یی وپوښتل چی خدای درسره څه وکړل؟ ځواب یی ورکړ، زه یی دهغی پروړاندی حاضرکړم، اوپه خطاب کی یی راته وویل: ای سفیانه مګرنه یی پوه چی زه غفوراورحیم یی؟ آیا شرمنده نه یی چی تل دخوف له ویری ژاړی.؟!
دنفس هوا اوداخلی شیطان دی له ځانه لیری کړه، هغوی ته مه ورنیږدی کیږه، نابابه دوستان دښمن وګڼه اوصادقه یی مه بوله ترڅوله تاسره ملګری اوهمرنګه شی.
توبه دمعنوی ځواک روح ده،هرچاچی توبه وکړه اما پخپل ځان کی یی تغییررانه وست، اوله تیروخت سره یی توپیرنه درلود، نویقینا پخپله ادعاکی کاذب دی. متعال خدای فرمایلی: (**اِنَّ اللهُ لا يُغَيِّرُمَابِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِاَنْفُسِهَمْ**)- په دنیا کی په چا ظلم مکوه،څکه په آخرت کی یی په وبال ګرفتاره کیږی. عدالت وکړه ترڅودجنت له لاری څخه لیری نشی. څوک چی عدالت نکوی نو په تیاروکی لویږی. پس دتولو سره په عدل رفتاروکړه، هرڅه په خپل ځای کښیږده ترڅو دحق پروړاندی مناسب ځای وغومی.
داآخرزمان دی، تاسو وینم چی هرڅه موبدل کړی. لدی چی دمنفی اوناخوښو بدلونونوسره مخ یاست، ویریږم. که کوم شی دبدلون اوتغییروړ وی ،نوبایددشرعی په مطابق اودحلالی لاری ترسره شی. ای خلق الله پوه شی چی زه ستاسو دصلاح اوګټی غوښتونکی یم، هیله کوم چی ددوزخ دروازی درته وتړل شی اوهیڅوک وردننه نشی، دجنت دروازی مو پرمخ پرانیستل شی، اودهیچا له ننوتو مخنیوی ونشی، پوه شی چی زما داتمنا دعلم اوپوهی څخه ده چی دخدای درحم څخه یی پربنده ګانولرم. زما ناسته ستاسو دزړونو دتهذیب لپاره ده، نه دکلام دښکلا لپاره، زما دوینا له خشن توب څخه مه تښتی، زه یی داسی تربیه کړی یم چی دخدای په لارکی دخشن وینا څخه نشم تیریدای.
خبری می زښتی دی، خوراک می زښت دی، اوهرڅوک چی له ما اوزماله مثاله څخه مخ واړوی، رستګاربه نشی.
هرکله که ددین پروړاندی له تاڅخه بی ادبی وګورم، خوشی کوم دی نه، ولی رفتاردی نه تائیدوم، اودی ته هم توجه نکوم چی زماپروړاندی حاضریری اویانه. پرته له خدایه بله هیڅ چاره هم نه لټوم. هغه څه چی زه پکی یم اوپه هغه ولاړیم، دتملق په ژبه، یا دتحکم اویا ښی اوکیڼ ته په انحراف باندی بدلون نه مومی.
له انبیاو اومرسلینو اوله تیروصالحو بنده ګانوڅخ پیروی وکړی، اوتل په دوی پسی اوسی ترڅودقرب مقام ته ورسیږی.
له ګناهونو اوزښتوکارونو څخه ډډه وکړی، دتوبی نهال پخپلو زړونو کی کښیږدی، شیطان په زړونوکی ویران کړی، اودرحمان کاخ یی پرځای ودان کړی، ترڅو له مولا سره وصل شی.

زه مغزته پاملرنه کوم   اوپوستکی ته نه گورم. دپوستکی په پالنه کی چی هماغه ظاهردی زیارنه باسم، زما زیاردمغزاومعنویت په پالنه کی دی.  پوستکی مولیری کوم اومغزته موپالنه ورکوم ترڅودرسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) سترگی موپه لیدوروښانه شی.
(ای دخدای بنده) ددنیالپاره زما سره ناسته مکوه،بلکه آخرت موپه نظرکی ونیسی.  هرکله که مودآخرت قصد یقینی شو، دنیابه هم دهغی په متابعت درپسی شی. دنیا دآخرت تابع ده، دضرورت په اندازه اودشرعی دحکم پراساس تری گټه واخلی، پدی صورت کی زه تعهدکوم چی محاسبه به درپسی نشی. آخرت پردنیاغوره وگڼی،باطن پرظاهر، حق پرباطل اوباقی پرفانی مقدمه وگڼی.ترک یی کړی، بیایی راواخلی، یعنی دخلق عطا ترک کړی اودحق عطاراواخلی، دنفس اوشهواتوعطا ترک کړی، اودسراوباطن عطا ترلاسه کړی، رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) څخه پیروی وکړی اوعطایی ترلاسه کړی. عزّوجلّ خدای فرمایی: (**مَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا**).
دخدای اورسول داوامروپه ترسره کولوکی جسوره اوسی،اودمنهیاتوپرېواندی یی دناتوانه بیمار په څیر، اودمقدراتودنزول پروخت دمړی پشان، اوپه همدی حال کی له خلکوسره په حسن اخلاقو رفتاروکړی. له خدایه هغه څه مه غواړه چی اراده یی پرهغی تعلق نه وی موندلی، اوله غوښتونو سره موافق اوسازگاره اوسه، پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی (**لَمَّا خَلَقَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ الْقَلَمَ، قالَ لَهُ أكْتُبْ، قَالَ مَاالَّذِی أكْتُبْ؟ قَالَ أكْتُبْ حُكْمِی فِی خَلْقِی اِلی يَوْمِ الْقِيَامَةِ**)-« هرکله چی عزوجل خدای قلم پیداکړ، دستوریی ورکړ چی ولیکه! وویل څه ولیکم؟ وویل زما حکم اوامرزما دمخلوقاتوپه هکله ترقیامته پوری».
ای مرزړیوژوندیو، زړونه مومړه دی، ښایی چی دهغی عزاداری ته یی کښینی،نه دنوروکسانو. پوه شی چی دزړه مرگ هماغه له خدایه څخه غفلت دی. هرڅوک چی غواړی زړه یی ژوندی شی، باید تل دحق په یاد اوسی، اودباطن په سترگودهغی قدرت اوعظمت ته وگوری.
(ای دخدای بنده) لومړی په زړه بیاپه ژبه خدای یادکړه.په زړه زرځکله دحق ذکروکړه اویوځل په خوله. دبلاو اوآفاتودنزول پروخت ډیردحق په یاد اوسه. تاته ددنیا دراتگ پرمحال هغه ترک کړه، اوآخرت ته مخه کړه اوهغه ومنه. اودحق دعنایت پروړاندی موحد اوسه اومخلص، اودغیرخدای پروړاندی بی اعتنا. پوه شه چی هرکله دنفس افسارگوډ کړی، نودرته طمع کوی اودموخی لاندی دی نیسی، نوهغه دورع په افسارسره مهاره کړه. قیل اوقال له ځانه لیری کړه. پوه شه چی دمرگ یاد زړه روښانه کوی اوددنیا حب تری باسی، اودظلمت پرده یی له مخی لیری کوی،ترڅوچی خلک ووینی چی ټول فانی اوناپایداره دی،اوچاته دگتی اوتاوان په رسولو سره ندی قادره.
**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار».**